مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

پوهاند دوکتور م. ا. زیار ۲۰۱۹/۰۶/۱۱

# پېښورۍ او ګرامري پېښې

زه له لوړ ترين زدکړيز لاسوند او په ښو دننيو او بهرنيو پوهنتونو کې له دومره استادۍ او له لويه سره، پر هېواني-سيمييز او جهاني کچ يې له نوروژبو سره د لېنګوېستيکي سرخښې اوسيالۍ په موخه له نيم پېړييز رېکاردي ليکنو ښېړنو سره، دا غورې نه کوم چې د پښتو ناوې له مخه مې پلو پورته کړ؛
او ان پخپله ستر خوشال هم د خپل مهال ببساري وېناوال په توګه دا بښنده (مبالغه) نه وه کړې، که نه ولې به يې دامنښته کوله :
چايې پلو له مخه وانخېست// پښتو لاهسې بکره پرته ده
او دا دی زمونږ د (وچ خوړ ملا) له يو بې سروبوله ګرامرګوټي سره په ټول شينواري ښاخ او ولوله وايي: «خوښ يم چې پلو يې ما له مخ نه پورته کړ؟»

## پېښورۍ او ګرامري پېښې:

د يوې -کره ليکنۍ پښتو مينه والو به د همدې ووبپاڼې( ۲۲مى ۱۹) له لارې ((دنوې ژبني ساينس او نوې پښتو ژبپوهنې په مورچل کې] کره کتنه لوستې وي چې د رياضي پوه ډاکټر ماخان شينواري تر څنګ د پېښوري شينواري ورور اما توري ژبپوهنيزو او بيا ګرامري لاسوهنوته هم ګوته نيول شوې وه، دادى، له ژمنې سره سم يې يوه ځغلنده کره کتنه همدلته وړاندې کوم او وار له مخه ترې د ((ترخو رښتيا وو)) له کبله د زړه له کومې بښنه غواړم. زما زاړه اوځوان شاګردان او پليونيان ښايي،داتر غوړه راتېره کړي چې د پښتوګرامر په نامه دا سې بې سرو بوله ليکنه ښېړنه هډو پرکره کتنه يا ارزونه نه ارزي،خو زه د خپلې ښانګپوهيزې ې پازوالۍ (مسوليت) او دفاع ترڅنګ د يو نيم پېړييز ښوونکي په توګه غواړم چې پر داسې يوه دوست عزيز باندې د ګوتنيوي ترڅنګ ولې لاسنيوى ونه لوروم او لاربنوونه يې و نه کړم!
۱- نن سباد هرې پوهنې او پوهنڅانګي ليکنه ښېړنه هله رښتاينه او ارزښت پيدا کولاى شي چې اړوند ليکوال ښېړنوال يې وړنده پوهنتوني (اکاډميکي) ښا نګپو هيز (تخصصي) لاسوند واک و ويساولري،خو د ګران پېښوري دا دواړه آړوآره (شرط و اصل) راته سم سهي نه برېښي.
ورځه، دابه ورسره ومنم چې د کوربه هېواد ژبې په زدکړيز بهير کې يې د خپلې پښتو رغښت ته پام وراوښتى او ګرامرکښنې ته يې مټې را نغښتې دي، بې له دې چې. پرلغښتې (سېستماتيکې) ښانګپوهيزې،لړترلړه تر ماسټرې کچې، هغه هم د سپنيزې (descriptive) ژبپوهنې زدکړې سرته ورسوي،هسې يې يو لړ کور سونواو لکچرونو ته سر ورښکاره کړى او ورسره ورسره يې له نړيجال (انټرنېټه) د ژبې او ژبپوهنې په اړه هم اړونده اوناړونده دېتاراخېستې؛ هغه هم تر ډېره د پسرغښتي (post-structural) ژبپوهنې پرځاى سوسوري رغښتي هغې اړوندې ليدتوګې له الماني کتابونو راژباړ لي او راکوټه کړې دي، بې له دې چې د لنګاژ اولانګ-پرول. له مخې يې آره بېخبنايي او مخبنايي ژبه سره توپيرکاندې. هرګوره، زمونږ پښتو-پارسي ووبپا نې، لکه، تاند، دعوت، افغان-جرمن...له ټولو ګټورو علمي -فر هنګي ليکنو او ژباړنو سره او بيازما ترځانګړې ښانګپو هيزې (zyar.net) دې پورې يې تر خپلې کچې (سو يې) ټيټې انګېرلې دي!!؟
۲- د پوهې او فرهنګ-د بنسټيز څرګندونيز اوزار په توګه يې ليکنۍ پښتو ليکلار وليکدود تر ډېره د ليکلوست کورس او لومړي ټولګي (پښتولوست) تر کچې هم را ټيټ دي، د پښتومرکې او پښتو ټولنې هومره يې هم نه ده کارولې،


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پاتې لاد نوي ژبني ساینس  په رڼاکې زموږ د ۵کلن غورځنګ ((یوه- کره لیکنی پښتو)) له څلورګوني وییپانګیز انډول سره.
(۱) د کتاب.(د پښتوګرامر پخپله بڼه کې:دویم چاپ، دانش۱۳۹۱) نوم یې دوې غبرګې تېروتنې لري، یوه داچې پښتو، له خپلې پښوییزې دویې (قاعدې) سره) سم د بل هر ژبني نوم غوندې ، کټ مټ ، لکه  ستاینوم پخپله د ورپسې نوم (ګرا مر) ټاکندویه ده او بل ټاکندوی یانې (د) سربل ته اړتیا نه لري او دویمه یې دا ستره تېروتنه چې (د (په خپله بڼه کې)  پرځای یې پخپله بڼه کې)  کښلی؛ دغلته (په) یو سربل دی چې له (کې) وستربل سره  د اړوند نوم وستاینوم( خپله بڼه) ټاکند وی دی.
هرګوره، له کره آر او خپل ګړدود سره سم یې (زور-a )پایلې پر خپل اکر پر ښې، خو یوځای لیکلې( پخپله) یې بیاهم د پزې پېزوان پاتې کېږي، ځکه د موخې پرخلاف یې  بشپړن چار (متمم نقش) پرکړولي چار (قیدي نقش) وراړولی چې انګرېزي انډول یې (myself) اوالماني یې (mir-od.mich selbst) راځې- ښشی (ښه شی) هم یو نادوده لیکدود دی!
(۲) - ځ ) چې د ګردو شمالختیځوالوپه (ځیګر) کې نشته،  دی د مشر ورور په څېر، هغه هم د اروابنادې پښتوټولنې د پرېکړو پرخلاف د(ز) پرځای کارې، لکه په (یواځې،یواځنی،ځما، ځلمی...یانې په دې لړکې د پېښوریوغوندې د (ز-ځ)  اخښلون (contamination) ښکارکېږي. نورې بېلګې یې (ښ-خ)،لکه نخښه-نښه -نخه او همداراز یې(ږ-ګ) نه توپیرول هم ورته تېروتنه ده،لکه (بږه-بګوه، ورږه-ورګه... .
(۳)  لرې خوا د پښتو زورکي په پلمه د عربي چنعړکیز کنسوننټ فونیم (ء) د هندي (اردو،هندکو، پنجابي...) ژبو تر اغېز لاندې له ورته وینګ سره پر پښتو راتپلی، (لکه په (أو،أور، أوږه... کې) او زموږ د برې خوا شینواری یې بې له دې چې پر آره کنسو ننتي موخه  ځان خبر کړای شي، د زورکي خپلواک ښوونې لپاره یې رادود ول غوا ړې او له دې سره په  لوی لاس د (یوې -یوازېنی کره لیکنی پښتو) او بیا سرخښې اوسیالې مخې ته یوه بله توره کرکنده رارغړوي؛ تردې چې په دغه نه را خپلېدو نکې زورکي نښه،یوخوا د پښتو اواز پوهې (phonemics) پښتې ماتوې او بلخوا ترې لړ کی منلی لیکدود بلهاروې، دساري په ډول (وخوړلای شي) پر (ؤه خوړلی شي) راړوي؛ایا په دې لړ کې به دځپو او وییونو په منځ (ګرد، تل، خپل، کلیو، شړ یو، پېړیو ...)کې، دغه عربي ثمّ  هندي (ء)  ښنګه وروټومبلای شي؟
(۴)  (-ی) او (ئ)  توپیرول اړین دي:
زما د ادبي او سیاسي لیکوال شاګرد (یون) پر پلیونی چې دواړه وړورنه  (ئ) هم پرنوموالړ (ی) اړوي (← تاسو زده کوی ۵۲)،یوه بله تېرو تنه ده،ځکه د پښوییز-مانیز ټکر (لړی-لړئ، شړی-شړئ، کنی-کنئ، کری- کرئ...) له کبله لابتر جنجال رازېږوي، نو ترڅو چې بل بلونج مو ورته نه وي راپیداکړی او یامو غږېږه ابېڅې د اوسني پېریانی لیک  او ورسره دداسې خندنیو نومَونو (اصطلاګانو) ځایناستی کړی نه اوسي، ورسره به  یې ګا لو، که ګور ګران دی، دمړي نا کام دی!
(۵) د  ټولیزناسم لیکدود په لړ کې یې نورې پاموړ بېلګې یې:
لوښنپېری یاانسترو مېنتال (په) او تونپېری  یالوکاتیف ( پر) نه توپیرول (پر یوه څو کی دې کښېنوم # په بله دې وهم!)،او همداراز یې د نورو سربلونو اخښل را خښل هم درواخله. د ( لپاره)،پر ځای (دپاره) او داسې ورته تېروتنې خو د اکا دمی څېړنپوهان هم کوي!؛ اُردو آری درغلي وستربل (په هکله) یې لا پر (په اړه،  په تړاو...) راړولای نه دی. همداسې یې د (له-سره) پر(د-سره) اړول درواخله، لکه (د خپلې ژبې سره ۵۸)!
(۶) د (بعضې) پښتو انډول (ځینې) یې بیاهم، لکه مشر ورور هر چېرې (ځنې) کښلی چې د وییکنومځري یا اداتي ضمیر(ترې) همچاری او هما نیز دی.
(۷).د (و)ګړنی نی پښتو تر اغېز لاندې یې (اولادونه) کښل هم بېځایه دي  چې د عربي ډېرګړي (اولاد) بیا ځلي ډېرګړی یا () جمع الجمع) ده اوان په خپل شینواري ګړد ودکې یې سوچه انډولونه (بچي،وړکي، زوزات) شته اوخوګیانی او...انډول یې زوی زات دی..
(۸)  د استاد رشاد غو ندې یې د پارسي دربرګرفتن ۵۲) ټکي پر ټکي راړونه (په غېږ کې نیول) څرګندنه (اصطلاح) هم یوه نابښنوړه تېر وتنه ده چې نړه (و)ګړنی انډول یې (راخېستل) او نوی دودشوی ادبي دایې(رانغښتل) راځي!!؟
(۹) کره منل شوی (دویم) یې یونیم ځای (دوهم) او نور زیاتره (دووم ) کارولی (۵۹) او دکتاب پر پښتی(دویم چاپ) هم ښایي دانش ورسهي کړی اوسي). همداسې یې د هماغه اروابناداستاد (دریېم) پر خلاف ( دریم، او نور نادوده لیکدودي خپلسری یې در واخله!
(۱۰) نیموا که -ی (Halbvokal -y) ، په نورو ټکو،غبرګغږې (ی -ay)  یوازې د څپې او ویي پایته  له نورو (یاګانو) سره توپیرېدای شي،لکه په (سړی-لر ګی،ځای،پای،بډای ... ) کې،او په سراو منځ کې بیا له ناکامه په لنډه-ي) دود شوې ده؛
خو، زموږ (د وچ خوړ ملا) یې د دې لپاره چې په خپل ګومان یې دغلته هم یو بل ((نوښت!)) په سترګو کې راننیستی وي، هرچېرې پراوړده (ې) اړوي، لکه: (ېو،وېنا،بېډبا، بېوه، با...) او ان د وییونو  پای ته یې هم پر (ې) بدلوي :(


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

لوېِ، زوېِ، بوېِ، خوېِ، پاېِ، ځاېِ ...۴۴) چې دا يې هم پر منلي پښتو ليکدود دملنډو يوه بله بېلګه بللای شو؛کښېني پېښوري انډيوالان يې له بده بتر پر سر همزه (ء) اچوي او له دې ناخبر چې د هندواروپايي کورنۍ پر کچ هر غبرګغږ (ديفتانګ) تردوه ټاکلو غږو (خپلواک+ نيمواک) تېرى نه کوي! (زيار: ۳-پښويه ۲۹مخ)
له دې نادوده ليکدود سره يو بل ورانپوهاوي او انارشېزم ته هم لاره هواروي او لا هممهاله د پښتو پښويې← ړومبۍ برخه (اوازپوهه يا فونيميکس) هم له پو ښتنې سره مخامخوي!!؟... !
(۱۱) راغلو،ورسېدو-ورسېدلو، وخوړو-وخوړلو(...براېل نومېدلو، رامنځته کړلو...۵۵) غوندې ناکره بېلګې يې خو له جلال اباده تر اسلام اباده له ګرد شما لختيځ سره شريکې دي او داهم غنيمت دی چې بايللي غږونه (ځ-څ-ږ- ژ- ښ) يې له لرودېرو (اخښلتيا وو) سره په ليک کې له پامه نه دي غورځولي!
دريېم- له لويه سره يې د سوچوالي خيال د ورور په توپير هم ډېر لږ ساتلى اوګو تشمېر ولسي بېلګې يې، لکه د کتابګوټي په روستي مخ کې هسې يوه بېدودي (استثنأ) ده.
په دې توګه يې د ژب-ټولنپوهانو پرګواښنه (← تېره ليکنه) ځان ناګاره کړی چې وايي: ]هغه دوديالې ليکنۍ ژبې د رواني پېړۍ ترپايه له منځه تلو نکې دي چې پر جها ني کچ ورځ تروررځې د نويو جاجونو (مفاهيمو) او ورسره هماغومره را تلونکې ويېونه يومخيز را پورکاندې[
او يوازېنۍ چاره يې دا را پرګوته کړې چې اړوند ژبپوهان يې څلورګونى انډول په پام کې ونيسي: درې برخې خپلې (ګړنۍ-پخوانۍ-خپللا سي) او څلورمه پور نۍ (مستعاره) برخه!
پښتو لا ښايي، تر انګرېزۍ ډېره مخکې د لاس پرلستوښي نژدې تربرې پار سۍ تر ګونډو لاندې ساورکړي، خو د ۶۰-۵ ميليوني پښتني ولس پر وړاندې،تاريخي پاژه اوپړه به يې هم تر ټولو وړاندې پر ربنتينو ژبني ساينسپوهانو راباربېري او د ده غوندې (بې علمه شېخان) به ورته د خير پر غو نډۍ ارام ناست وي او ننداره به يې کوي!!؟
څلورم- د عربي آرو دوديزو هغو ترځنګ له خپلې خښتې يو شمېر رايستلې تخنيکي نوموني يې هم نادودې او د پښتو ويېرغاونې (Wortbildung) له آرونو سره همغږي نه لري(← وييپوهنه او ويېرغاونه):
(۱) ګړ يې هم دمورفيم تر څنګ د (ويي پرځای کارولی)، د پښتو قا موس (پق) کړ(فعل) پر بنسټ يې زموږ رغولي انډولونه (کړند،کړی، کړول، کړوال...) بې دک ودليله په (فعل، فاعل، مفعول، بې واسطه مفعول، با واسطه مفعول...) راننګو لي اکر دا چې په ټولنه کې يې بدې ماناوې را خپلې کړې او ما هغه مهال د يو لړ نورو پخوانواو وسمهالوليکوالواواستادانو په لړکې داروابناد استاد الفت په سلامشوره ، رادود کړي او زموږ شاګردانو څه د ښوونکو استادانو او څه د ليکوالو اورسنوالو په توګه له نيمې پېړۍ راهيسې کارولې او پر لپسې ټوليز والی مومي، خو ده لوړلې ده چې خپله يوه پښتني- افغاني چاپي يا بربښنايي رسنۍ به نه لولي او نه اوري!
(۲) غونډ (عبارت، فقره) او غونډله (جمله)،غونډله پوهه هم همداسې درواخله. څومانيز عربي هغه، لکه (نحو، نومځري) (ضمير) ... يې هم هسې بيرته له ګوره را يستلې، د معلوم تر څنګ يې مجهول بيا (پاسيو) کړی دی!.
(۳). (ويی ) يې چې د (خوره يی) غوندې يې ډېرګړی (وييونه) راځي، هم بېځايه را ننګولی،لالا خويې لږ تر لږه د يوې (يا) په غورځونه (ويونه) راخپل کړي دي. مادا سوچه زړويزی (ارکاکاييزم) او هممهاله ګړويزی (دايلکټېزم) ←په مردان کې د (لغت او کلمې) په مانا په خپلو ګناهګارو غوږونواورېدلی او د منځني پښتو اد بي پېر د ويناوالو په لړکې احمد شاه بابا ان د (طيبې کلمې) په مانا هم کارولی:
((دا ويی د تنعم دی لا اله الاالله))
(۴) د (-تون) والا نويزونو (نيولوجېزمونو) په لړ کې يې، يو (روغتون) هم پر (نا روغتون) اړولی، له دې ناخبر چې (روغ-) يوا زې نوم او ستاينوم نه ، بلکې د (رو غېدل، روغول...) کړ ريښه هم ده، ياني روغتون (د روغېدلو يا روغولو ځای) په جاج رامنځته شوی يا تعبير شوی دی؛ مولانا خادم ما ان په زړبوډۍ کې ورته ورا نپوهاوي ته ورځير کړ!
(۵) د کړاوړون (فعلي ګردان) د يوه اړخ (وجه) په توګه يې د عربي (مطلق او غير مطلق) او بياپښتو بشپړ او نا بشپړ پرځای نادوده نومَونې (مکمل او نا مکمل (۱۱۸) د خنداوړ بربښي، يا پاسيو تړلی (شرطي) متعدي (شيروشکر) يې زموږ د د (بېچار اړوتي لېږند) ځايناستی کړی چې دنورو عربي- دوديزو هغو غوندې ،نه د منلو کابو درلودای شي او نه د دودولو، ځکه نه يې څوک شاګردي کوي او نه پليوني !؟
داچې ده په ليکنۍ پښتو او تخنيکي پوهنوييونو (دانشواژه ها) دواړو برخو کې، ان تردوديزو استادانو هم ورتېره کړې او ۹۹ سلنې هومره يې پر(عربېزم) زور اچو لی دی، ايا پر نوی ځوان کمپيوټري پښتنی پښت به يې ومنلای شي؟
پينځم- څېړندود (مېتودولوجي) –
(۱) نن سبا تر ژبني اوزار راروسته د هرې څانګپوهيزې ليکنې څېړنې په ارزونه او کره کتنه کې پرټوليز او بياځانګړي نومهالي څېړندود (مېتودولوجۍ) ټيکاو لري، هغه هم د استاد منلي په خبره، له څېرمه متنه تر آر متنه (له پاراتکسته تر اصلي تکسته) – د ((پينځو ستورو!)) په ګډون،ځکه ((دوديز ليکوال پوهان او يا استادان)) بلل


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

کېږي چې تر هر څه له مخه يې  پر  وسمهالي مېتودولوجی لاسبری نه درلود، نو له دغه ګوتپېر (زاويې) ښاغلی پېښوري ته هم  ګوته نيول کېږي!
(۲)  نبغ پر نېغه ټاکلي سکالو نه راپيلوي.، يا د ارواښاد روهي په خبره(د پر مو ضوع  مستقيم تعرض نه کوي، او نورې بې اړاو تړاوه او بې اخځه سکالووې تر آرې سکا لو (ګرامر) او بيايي ترهرې ځېرمه برخي مخکي را ډېرې کوي، او له
دې سره د څېړندود يو بل اړين آر (سکالوبيز اوډون او ډيزاين) هم لتاړوي. پښو
کټ مټ،لکه دملنګ  کچکول،د ژبې او ګرامر په تړاو يې چې هرڅه له الما ني کتابونو او انټرېټه راژباړلي، پکې را لړلي دي:بوار له اسمانه غړېږي بيا له ريسمانه: يوځل دايکرونيکي(تاريخي او پرتليزه) سکالو راخلي او بل ځل سېنکرونيکي (تشريحي) سکالو، او په دې لړ کې کله پښتو سره د پرتلې لپاره کله له سانسکرېټ او اوېستا غږ نيم راخلي او کله  له عربي او عبري چې دی يې ((يهودي!)) بولي. له سېنکرونيکي پلوه له روسي يا جرمني هغه!
د خيرندوی له (دروغ رښتيا) يادښته نيولي،ترخپل لنډيادښت (دسريزې په تو ګه)، بيا نيوليک (د سر ليکونو لړليک!)، (دويم ځلي) بسم الرحمن الرحيم، ژبه، موږ  څرنګه خبرې کوو، ژبه څشی (څه شی) دی،د ژبې په هکله (اړه-تړاو) د نړۍ د پوهانو  څرګندونې، ژبه او فلسفه، دشتو (هستی؟) دوه اړخونه،د ژوند ښکلا په څه کې ده؟د ژبنې ګړونو (نوم،فعل، قيد) فلسفي اړخ (؟)، ژبه اومنطق، ژبه اوساپوهنه...او  هله بيا د (مخينی څرګندونې) تر سرليک لاندې زړه نازړه آره سکا لو (ګرامر) بې کوم پېژنده (تعريفه) وارله واره پر درو برخو ويشي. ورپسي بيا هم لمنليک وز مه  او بې تړاوه (( د ګرا فونو، څېړو او انځورونوپه هکله، پښتو او سامي ژبې))  او هله دګرامر لومړی بر خه (او ازپوهنه.. ۳۷.)،(پښتو اواز پوهه) تر څېړنې لاندې نيسي او ورپسې دوومه  (دويمه)  برخه (ګړپو هه ( يا د ده په خپله نومَونه (ګرڅېرنه)  او دربمه (دربيمه ) نحو (جمله څېړنه) يا (غونډله پوهه- يو هنه) يې بيادننه دننه  داسي اخښلي راخښلي چې له لوستونکي لارلودن ختا کوي، هغه هم له ډېرکچه (وريا) چاپ سره؛ د چا خبره د غران همدومره ګوره وې، يا  له ورته متله رازېږېدلي(څه ژرنده پخه، څه غنم لانده ) څرګندنه (Redewendung)!
(۳) بېبليوګراف (اخځليک) اوريفرنس ()لمنليک ،پايليک...) هم د هرې ليکنې څېړنې او په تېره د يوه ځانګپوهيز نښير (اثر) له بنسټيزو آړونو (شرطونو) څخه ګڼل کېږي. اواخځليک يې په ټوليز ډول پايته راځي چې نومېرلي (مشخصی) ځانګرتياوې، لرې يوه ډېره دوده بېلګه يې،لکه زما خپله دا:
زيار،مجاوراحمد: پښتوپښويه،دربيم چاپ. دانش خپرندويه ټولنه، پېښور  ۱۳۸۴ل/ ۲۰۰۵ز.همداراز يې ريفرنس د لمنليک يا پايليک پرځای د کتاب د متن دننه په ليندېوکي د ليکوال لنډياکورنی نوم او مخګڼه،لکه (الفنستن ۱۵-۱۳) چې دېته لينده يې ريفرنس وايي
اکر داچې شينواري دغه اړين آر واَړ ګرسره له پامه غورځولی، نه يې د  ليندېو، نه  شمېرو(ا).،(۲)، (۳)...او نه لمنليکونو او پايليکونو څرک لګي او نه يې د کتاب  پای ته  د ټوليز اخځليک...او چېرې يې په تېر کې  د کوم ليکوال نيم تش  نوم  هومرهاخېستی دی!
(۴). بله نادوده يې دا چې پر نړيوال کچ منل شوي سلکلنه غړيزه  پښتوابېڅې چې د(( افغانستان د ژبپوهنې اطلس) د(۲۸۴) ګردودو او زما د ۵۵۱۳ل. کال  له وړا نديز سره داکادمی د تشريحي قاموسونو لپاره  پرکاراچول شوی،په خپله سپسته  رانغوي؛ بده يې لا داچې  په دغه ګرامر کې يې بيا،نه ټولمنلي هغه کارو لي ، او نه  له خپلي خپتي رايستلي بې سرو بوله دا؟
نه مخينه او نه مخبېلګه
دڅېړندود (مېتادولوجی) له پلوه يې هم، نه هندوارووپايي پښويز سېستم، لکه د هنزکراهي ګړپوهه  (  :H. Krahe Idg.Sprachwis.2. Formlehre) مخبېلګه  (ماډل) کړی، نه د نوي ژبپوهنې په رڼاکې د نومورو لوېديزو پښتوپوهانو،اوپه ځانګړي ډول،د افغانستان د يو کم (۵۰) ژبو او بيا پښتو پلار په ستاينوم ستايلی استاد مورګنستيرن اړوندي ليکنې او نښيرونه،او نه د کورنيو،لکه د (تړې: د نا خجنو يا وييکو ګرامر) او له مېرمنې روبسن ) سره ريفرنس ګرامر، نه د لودين له خوا د (شفيف) لنډکي پښتو ګرامر او وييرغاونې ژباړه او نه د پوهاند الهام له خواد (پنزل) هغه ...او نه بيا،زما بشپړه زدکړيزه او هممهاله اکاډيميکه پښتو پښويه (ګرامر) ،له ۴-۳ (غځېد لو چاپونو او ۳۵۰ مخيزې پنډې پېرې بنې سره !
زه باور لرم، که ښاغلي پېښوريشينواري  لا تر (دېتا) راغونډولو مخکي دا کار کړی وای، دغه  ګرامر به يې پر دې انګړ نه وو کښلی!
(۲)  لکه وار له مخه چې د ليکنی ژبې او ورته نعوتي وشوې،تومَنپوهنه  (تر مينالوجي) هم همداسې  درروا خله.چې له نوې پښتو ژبپوهنې سره سمه  له ۶۲- ۱۹۶۱کلونو راهيسې د کا بل پوهنتون د ژبو اوادبياتو پوهنځي  د نومهالي ژبپو هنې لومړنيو ماسترانوله خوراپيل شوې او رادود شوې ده، هم ځانته مخبېلګه کړې نه ده. پرځای يې د دوديزو-عر بي (←فاعل و مفعول...) نومَونو تر څنګ د پښتو وييرغاونيزو آرونو خلاف   بې سرو بوله هغه  له خپلې خپتې رايستلي، اوهسې د برابرۍ له مخي يې  زموږ درې څلور بېلګې (اواز، ګړ،يوګړی، ډېر ګړی، غونډله...) ورسره اخښلي راخښلي دي. د (شونډيز) تر څنګ يې (شونډوال) هسې بوس بادول دي، بېواک  (اصلي اواز )،خپلواک (کو



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکي په ځير و لولئ

مکي اواز)، نیمواک  (نیمه کو مکي یا نیمه اصلي)؛ غبرگغږ (دوه غږی) او کله غبرگغږی نوموي،گړپو هه یا گړپوهنه (گړځېړنه) او داسې نورې  اوږدې اوگډوډې نومَونې یې!

د گرامرلومړۍ برخه (اوازپوهنه)

اواز پوهنه چې په لینديو کې یې ورسره (توري؟) ورکښلي او لاتین انډول یې هم ورسره د (phonemics) پرځای (phonology) هم د خپلسرۍ یوه کوشنۍ بېلگه ده!

 دغلته بېواک(اصلي اوازونه) چې  (بېغږه، غږاړ) ستاینومونه یې هم ورکړي او (بېغږ ) یې هم له ناغږن (viceless) سره ټکرکړی- کټ مټ لکه کومکي (خپلواک) له ( غږ لرونکي، غږوړ) ستاینومونو سره -داسې په سترگو کې راننباسي:

(( اصلي اوازونه د پو ژبې بنسټ دی خو...له خپله ځانه غږ نه شي ویستلی (اېستلی) او دکومکي اوازونو مرستې ته اړ وي... ))؛. بې له دې چې اخځ یې راو ښیي،همداسې یې په همدغه ( ۵ مخ) کې د بېواکو نالوستوړ لښتلیک (جدول) درواخله، هغه هم، تر هرڅه له مخه د !  ←غږیزې ابېڅې دنه کاروني له لامَله!

په ورپسې مخ کې(د اوازونو ټرنه) یې یوه بله نادوده خپلسرې نومَونه ده -چې دود انډول یې (څپه) ده- او بیا یې چې تر دغه سرلیک لاندې  څه لیکلي ،لوستوړ او پوهاوي وړ نه دي،لکه :

گړونه ډېر داسې جوړېږي چې دوه اصلي ( یاني بېواک) د بوکومکي (خپلواک) په مرسته چالانېږي (اداکېږي یاویل کېږي)،لکه: سر، ور،غر، زر، زړۀ،ترۀ، پلار، مور... او بیا په دې تړاو بېواکوړي (کلسټرونه) یا ابتدا به ساکن راوړي ، بې له دغو تخنیکي  نویو او زړو ترمونو (اصطلاحاتو) هم لکه: برمته، او ورپسې دلیند یو (قوسونو) دننه داورزیاتوي:(برند، پرنډ، شخوند،سخوندر،، هم د غور وړ دي) او همداسې یې نورې پرېږې!!؟

د  پښتو اوازونو( فونیمونو) سپړنه او پېژندنه تر دې کمزورې برېښي چې زور او الف یې سره توپیر کړي نه دي؛ د دې پرځای چې په اوسني اریاني پېر پښتو کې له دوه درو ارکاییزمونو (آر، آړ، آریا،آس) په استثنأ سر-الف نفې کړي!

په ۵۶مخ  کې یې دا  هوایي غونډارۍ چې په اروپايي ژبو کې غبرگژ بیز(ډ) د شتون خبره کوي، که موخه یې انگرېزي هم وي، او د پښتو څلور واړو هغو ()ټ-ډ-ړ-ڼ په تړاو یې دا بله دوپاړه ده چې  گوندې له هندي او دراویدي ژبو یې آره نه ده اخېستې؛ له دې ناخبره  چې د نوې ژبپوهنې په رڼاکې د  تېرمهالې او وسمها لې پښتوژبپوهنې د بنسټیزونښیرونو، لکه: غږپوهنې، اوازپوهنې او آرپوهنې (اېټېمولوجۍ)، وییپوهنې، وییرغاونې او پښويې (گرامر) له پیلامگر  فرانسي (جېمز دارمستېټر ۱۸۴۹-۹۴)، تر الماني شاگرد، وېلهلم گایگر او د شاگرد شاگرد ناروېژي (گیورگ مورگن ستیرن ۱۹۷۸-۱۸۹۲)،انگرېز (ډېوید مېکنزي ۲۰۰۱-۱۹۲۶) ... پورې د څلورواړو دراویدي- هندي آرو غبرگژبیزو راپورونه او راخپلونه په نټه نه منونکو ساینتیفیکو دکونو دلیلونو زباد ته رسولې، دی خو دې اخځ  یانټیالی (منکر) راوښیي چې دازه  یې د شاگردانو شاگرد دا هرڅه په سترگو کې ورننباسم او ورسره ورسره  دوه نوي را زېږېدلي کندهاري غبرگژبیز ((ښ-ṣ- ږ-ẓ)) هم!

دویمه برخه: گړځېړنه (Morphogogy ) (گړپوهه-نه)

دا برخه یې هم له خپلې خېټې رایستنو نومَونو او له دې ناکره پېژند سره راپیل کړې ده: په گړ کې د اواز بدلون اغېزې څېړي په لاندې ډول:

ا-په پښتو کې زېات د پاې توري چې موخه یې (پایلې ) دي او (توري) ترم یې له دودیز-عربي راخېستی چې نن سبا یې کارول سور کفر دی!

ب- نوم د ()نرولی-ښځولی، گڼ-حالت) چې کره پښتو یې (نوږی-گڼه- پېر) یا دودیز (جنس-عدد- حالت) راځي!

 همداسې یې د الماني نومَونو په بېځایه پېښو اوړېدوني (گردانېدونکي) او نا وړېدوني گړونه (کړېدوني) او ناوړېدوني هغه ()نۀ کړېدوني) او نورې لا بترې نوموني او خنداوړ سپېڼې او شننې ما دېته اړباسي چې  نورې، نه په گړپوهه (صرف)اونه  ورپسې غونډله پوهه (نحو) خپل گرانبیه وخت خاورې کړم. او نه د نورو مینه والو لوستونکو؛. نو که خبره د ژبپوهنې او پښتو پښويې دفاع او بیاد ښاغلي پېښوري شینواري د لاربښوونې خبره وي، همدومره یې بس ده!!؟ په درسته څانگپوهیزه مینه اومننه!

پوهاند دوکتور م. ا. زیار

اکسفوري- ۱جون ۱۹



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ